# د یوناما خبری کنفرانس

**هیئت معاونت ملل متحد در افغانستان**

**دفتر سخنگوی**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
**پوست الیکترونیکی:** spokesperson-unama@un.org
**ویب سایت:** www.unama-afg.org

مطبوعاتی کنفرانس ( کابو تکی په تکی )
داکتر نیلاب مبارز، د یوناما د ویاند د دفتر څخه

*کابل دوشنبه فبروری میاشتی ۴ نیته ، کال ۲۰۰۸*

یوناما : د لوي او مهربان خدای په نامه، سهار مو نیکمرغه او د یوناما د ویاندوي مطبوعاتي کنفرانس ته ښه راغلاست. زه نیلاب مبارز یم، د یوناما د ویاندوي له دفتر څخه. د معمول په څیر زموږ د نن ورځي ناسته دوه برخي لري: په لومړۍ برخه کي به د ملګرو ملتونو د موسساتو په اړه یو څو ټکي معلومات درکړم او بیا به زه ستاسو پوښتنو ته ځواب و وایم. مننه.

## د همغږۍ او څارني د ګډ بورډ (JCMB)

د همغږۍ او څارني ګډ بورډ خپله اومه ناسته ددی اونی په ورستیو ورځو کښی د فبروری د میاشتی په ۵ او ۶ د جاپان په توکیو ښارکښی دایره وي. له هغه وخت راهیسي چي د افغانستان تړون باندي موافقه وشوه، تر اوسه پوري یو شمیر مهمي لاس ته راوړني تر لاسه شوي. حکومت د خدمتونو وړاندي کولو ته چټکتیا ورکړي او نړیوالي ټولني خپلي ژمني زیاتي کړي، خو په عیني وخت کي د ۲۰۰۶ کال د لومړیو په پرتله امنیتي وضعه ډیره خراب شوي او په همدي ډول افغانستان د نشه ای توکو د صنعت د غیر موازي رشد سره مخامخ دی.

د ۲۰۰۷ کال په اکتوبر کي چي زموږ وروستۍ ناسته وه د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي پخوانی استازی ټام کوینګز د لوړو ارزوګانو یوه اجنډا وړاندي کړه. هغه د سمون، امنیت، حکومت کولو، د نشه ای توکو سره د مبارزې، او سیمه ایزه همکاري د څلورو لومړیتوبونو په توګه څرګنده کړه.

تیره ناسته په سیمه ایزه اقتصادي همکارۍ باندي په خاصه توګه رڼا واچوله. د دي اونی د همغږۍ او څارني ګډ بورډ به یو تر ټولو مهمه ستونزه باندي غور وکړی: د نشه ای توکو د صنایعو سره باید څرنګه مبارزه وشي.

د تیر کال په پسرلی کي د کوکنارو د حاصل ریکارد د شورشیانو او د نشه ای توکو د پیوستون نتیجه وه. دواړو خواوو د یو کمزوری دولت او د دولت د کار کوونکو تر منځ د فساد په زیاتیدو کي خپلي ګټي خوندي کولي. په دي کار کوونکو کي پولیس او ولایتي او د ولسوالیو کارکوونکي هم شامل دي.

د رواني اونۍ د JCMB د ناستي د رسیدو او نشه ای توکو د مسلي د څرګندولو لپاره پراخي تیاری او جدي خبرې اترې ترسره شوي. موږ تمه لرو چي د نشه ای توکو د کنترول د ملي ستراتیژۍ پلی کول، بیا کتنه او لومړیتوب به د حکومت او نړیوالو شریکانو له خوا په هیواد کي د نشه ای توکو په وړاندي د مبارزې یو نوی څپرکی پرانیزي.

موږ به پدې اونۍ کي د توکیو د ناستي په هکله تاسو ته بشپړه معلومات درکړو او که چیرې ستاسو له جملي څخه هر څوک د لا زیاتو معلوماتو غوښتونکی وي، نو د دې ناستي په پای کي دې زما او یا هر بل همکار سره خبرې وکړي.

## په لویدیز کي د بشري مرستو نوي معلومات

لکه چي تاسو ټول پوهیږئ په تیرو څو اونیو کي ډیري زیاتي واوري وشوې او د تودوخي درجه راپریوتله، په تیره بیا په لویدیزه سیمه کي.

د حکومت تر مشرۍ لاندې مختلف همکاران د یوناما په ګډون او د ملګرو ملتونو نورې موسسې، غیر دولتي موسسې، د بیا رغونې ولایتي ټیمونه او د ایساف د پیښو سره د مجادلې ټیمونه یو ځای سره کار کوي څو چې اړوندو ټولنو ته د بشري مرستو په برخه کې لومړیتوب ورکړي.
په هرات کې ۲۵۰۰ داخلي بېځایه شوې کورنۍ د خوراکي او غیر خوراکي توکو د مرستو څخه برخمن شول چې په کې حبوبات، بوره، اوړه، کمپلې، پلاستیکي څادرې، کالي او صابون چې د یو ان ایچ سی آر، د خواړو د نړیوال پروګرام، یونیسف او د کډوالۍ د نړیوال سازمان له خوا برابر شوي وو.
د بې ځایه شویو کورنیو تفصیل په دې ډول دی:
۱۷۰۰کورنۍ د مسلخ په کمپ کې، ۶۵۰ کورنۍ د شیدائی په کمپ کې او ۱۵۰ کورنۍ د مناریت په کمپ کښې.
د خواړو نړیوال پروګرام لا د وړاندې څخه ۸ متریک ټنه خواړه په هرات کې د فارسي د ولسوالۍ سره مرسته کړې ده او یو ان ایچ سی آر د خواړو قوطۍ، صابون، پلاستکي توشکې، څادرې، د خاورو د تیلو منقلونه لا د وړاندې څخه په هرات کې ویشلي دي.
د دې لپاره چې د څارویو لپاره د واښو مساله حل شي،( ایف ای او) د مالي مرستې غوښتنه کړې ده څو چې په دې توګه د زیانمن شوو څاروي لرونکو لپاره واښه برابر کړای شي.

موږ په دې اړوند د ټولو کلیدي لوبغاړو سره کار کوو څو چې د دې باور تر لاسه کړو چې مرستې رارسیږې څو هغو خلکو ته ور کړای شي چې ورته زیاته اړتیا لري.

## هرات- د ملګرو ملتونو مطبوعاتي کنفرانس

هڅې دوام لري ترڅو د هیواد په غرب کې د واورې د اوربښت له امله زرګونو متاثره شویو قربانیانو ته مرستې ورسوې، د ملګرو ملتونو نمایندګي به سبا ته د دې هڅو سره یو ځای شي، ترڅو د هیواد د غرب په هکله ډله ایزه رسنیو ته د مرستو په هکله معلومات ورکړي او همدارنګه د بشر دوستانه کار کونکو او کاروانونو په وړاندې چې خوراکي توکي، درمل او ګرم کالي د هیواد ډیرو زیانمنوکو ټولنو ته رسوي، د بریدونو د نه کولو غوښتنه کوي.
د ډله ایزه رسنیو هغه استازي چې غواړي سبا ته پدې مطبوعاتي کنفرانس کې ګډون وکړي نو زموږ د همکار ښاغلي نظیف الله سالارزي سره اړیکه ونیسي، د نوموړي سره د اړیکې نیولو په هکله به د دې کنفرانس په پای کې جزئیات وړاندې شي.

## د پوښتنو او ځوابونو برخه

**د آزادۍ راډیو:** هغه نوی رپوټ چې د بشری حقونو د څار د موسسې له خوا خپور شوی دی دا په ډاګه کوی چې افغانستان ۹۵ په سلو کې د نړیوالو تریاکو تولیدوي. تاسو څه فکر کوئ چې ولې د نشه ای توکو پر ضد مبارزه د دې واقعیت با وجود ناکامه شوه، چې نړیوالې ټولنې په زیاته اندازه پیسې لګولې دي او دا چې حکومت په دې ستونزه کار کوي؟

**یوناما:** تاسو په یوه زړه پورې ټکی ته اشاره وکړه. د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې دواړو هوډ کړي دی څو چې په افغانستان کې د نشه ای توکو کښت ته د پای ټکی کښیږدي. دې اونی کې هغه غونډه چې په توکیو کې جوړیږي رسمي کارکوونکي به دغه مساله هم وڅیري. د نیکه مرغه تیر کال ۱۳ ولایتونه د کوکنارو څخه فارغ ولایتونه اعلان شول او دا ښه خبر دی. موږ هیله لرو چې حکومت او د دې نړیوال همکاران به د دې ستونزې د حل لپاره ډیر څه وکړي او د بزګرانو سره به مرسته وکړي چې د ژوندانه لپاره بل بدیل ومومي. موږ هیله لرو چې بیلا بیل ګروپونه به خپلې هلې ځلې وکړي څو چې دغه مجادله اغیزمنه کړي.

**د بی بی سي راډیو:** آیا ملګري ملتونه د هغو وګړو په اړوند چې نیغ په نیغه د زیاتو واورو له امله په افغانستان کې زیانمن شوي دي او څومره یې د ملګرو ملتونو د مرستو څخه برخمن شوي دي، ځانګړې احصائي لرئ؟

**یوناما:** بلی ، تاسو هغه ارقام لری کوم چې دوه اونی وړاندی خپاره شول او نوی ارقام او احصائي به سبا ته خپاره شی، او هر څومره ژر چې موږ هغه تر لاسه کړو تاسو ته به یې ورسوو.

**د تمدن تلویزیون:** تاسو د هغه اړیکی په اړه وویل چې د یاغیانو او دولتي چارواکو تر منځ شته او هغه د کوکنارو د زیاتوالی لامل ګڼئ، آیا تاسو کولای شئ و وایاست چې دغه کسان څوک دي؟

**یوناما:** ځنی شواهد شته چې د دولت ضد عناصرو او هغو کسانو تر منځ چې د مخدره موادو په قاچاق کښی لاس لری نژدی اړیکی شته. د دوی( د دولت ضد عناصرو او هغو کسانو چې د مخدره موادو په قاچاق کښی لاس لری) په ګټه دی چې د حکومتی کارکونکو په منځ کښی فساد زیاد کړی. په عین حال کښی په هغه ځایونو کښی چې امنیت او د قانون حاکمیت شته، مونږ کمی ستونزی لرو. د بیلګې په ډول د افغانستان په شمالي او مرکزي برخو کې موږ د کوکنارو په کښت کې د پام وړ کمښت ګورو، او دا ځکه چې د افغانستان په دغو برخو کې د قانون د حاکمیت او اداري ځواکمني شته. د دې په نتیجه کی ۱۳ ولایتونه د نشه ای توکو څخه پاک اعلان شوي دي او دا ښه خبر دی. موږ دې ته اړ یو چې د قانون

حاکمیت او حکومتداری د هیواد په مختلفو سیمو کي څواکمن کړو څو چي دغه بهیر دوام وکړي. د افرادو نومول به مرسته ونکړی- مونږ باید هڅه پراخه مسایلو ته پام واړوچی ما مخکی وویل.

**د آریانا تلویزیون:** د هغو اړیکو په اړه چي تاسو ورته اشاره وکړه، ایا دا ډول اړیکي د حکومتي چاروا‌کو، یاغیانو او د نشه ای توکو د قاچاق کوونکو یا د محلی خلکو، باغیانو او د نشه ای توکو د قاچاق کوونکو تر منځ موجودي دي؟

**یوناما:** د هغه څواب څخه چي ما مخکی ورکړل نور زیات د وویلو لپاره نشته. د مخدره موادو په قاچاق کښی څو جانبه مختلفی اړیکی شته. د جاپان په توکیو کي JCMB ناسته به د نومونړی موضوع په هکله خبري وکړي.

**راه نجات:** د بناغلي پډی آشډون د کاندیدو د بیرته اخیستني وروسته او د جنراک مک کول څخه د ولسمشر د ملاتړ نه وروسته، آیا اوس ملګري ملتونو د دي بدیل څخه ملاتړ کوي؟

**یوناما:** د عمومي منشي د نوی ځانګړی استازی اعلان به د نویارک څخه وشي او نه د کابل څخه. که چیري پدې هکله کومه پریکړه ترسره شي نو موږ به سمدستي تاسو ورڅخه خبر کړو. د یوې پریکړې د نیولو لپاره لږ وخت ته ضرورت وي او موږ باید پدې هکله د ګمان وهلو څخه ډډه وکړو او دا د هغو تولو لپاره چي پدې پروسه کي شامل دی کمک نه کوي. موږ د هغو تولو نمایندګیو په کچه چي په هیواد کي کار کوي د ملګرو ملتونو لوړ رتبه کار کوونکي لرو- او پدې وخت کي زموږ تمرکز باید همدومره وي- موږ باید د افغانستان د خلکو د ښه راتلونکي لپاره خپل کار ته دوام ورکړو.

**پژواک خبري آژانس:** موږ څو اونی وړاندې د ایساف د سرچینو څخه خبر تر لاسه کړ چي په هیواد کي به د تریاکو په کښت کي زیاتوالی راشي. آیا ملګري ملتونو پدې هکله څه معلومات لري؟

**یوناما:** موږ تمه کو چي د نشه ای توکو څخه د پاکو ولایتونو شمیر پدې کال کي دوه برابره شي، خو راځئ چي پدې هکله د ګمان وهلو څخه ډډه وکړو. موږ به هله مناسبي او دقیقي

شمیرې خپرې کړو کله چې یې موږ تر لاسه کړو. د یو ان او دی سی دفتر به خپل تازه تخمینونه د سږ کال کوکنارو کښت په هکله ، د فبروری د میاشتی په ۶ په توکیو کښی د JCMB په ناسته کښی خپاره کړی.

**ایرنا:** په تیرو کلونو کې د افغانستان حکومت په دې نه دی توانیدلی چې د کوکنارو کر ته پای ورکړي، دلیل یې څه دی او ولې حکومت په دې کې پاتې راغلي، چې بزګرانو ته د معیشت نوي بدیل ور وپیژني. ولې دغه هڅه ناکامه شوه؟

**یوناما:** دا یوه مغلقه موضوع ده، خو په دې کې هیڅ شک نشته چې هر څوک غواړي چې د نشه ای توکو تجارت په افغانستان کې پای ته ورسیږي. بیلا بیلې خواوې په دې کار کوي چې بزګرانو ته بدیل غله جات ور وپیژني. د ملګرو ملتونو یو سازمان چې د بدیل معیشت د معرفي کولو په کار کې بوخت دی او په همدې ډول د کرنې دچارو د ودې لپاره په عمومي چوکاټ کې کار کوي، د ملګرو ملتونو د خوراکي توکو او کرنې سازمان (FAO). نوموړی سازمان ۲۰ نوي ډوله اصلاح شوي تخمونه معرفي کړي او دغه تخمونه یې د بدیل په توګه کروندګرو ته ورکړي. په عینې وخت کې موږ په افغانستان کې د ماینونو د ستونزې سره مخامخ وو. موږ دې ته مجبور وو چې یوه پراخه ساحه له ماینونو څخه پاکه کړو (نږدې یو بیلیونه مربع متره ساحه په افغانستان کې د ماینونو څخه پاکه شوې ده). د اوبو لګولو موضوع بله مسله ده، موږ د دې پر ځای چې بد بینه و اوسو باید خوشبینه واوسو.